مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۳/۱۲/۰۲

# د لنډيو پر تـتـر بانديِ د کډوالی انځور

## نهمه برخه

## لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## دوه‌سوه‌اته‌ویشتمه برخه

پنجاب ـ تهران د اور مرۍ شه
چي واکداران يې د شړل حکم کوينه

افغانه يو وير خو دې نه دی
زه به دې کوم يو غم ته اوښکي تویومه

خپله روزي له موږ نه غواړي
ديواليتوب لـه مـهـاجر پـوره کـويـنـه

پنجاب تهران دې خدای تباه کړي
دوی رالېږلي زموږ مُلک ته فسادونه

په تېرو وختونو کې کې چې په گاونډيو هېودوادنو کې د افغان کډوالو شته‌والی د کوربه گاونډيانو له‌پاره د لنگې غوا بڼه درلوده، په خورا مینه، چالاکۍ او مکر سره يې له هغو نه هراړخيزه استفاده کوله. له یوې خوا يې له نړيوالي ټولنې په ميليونونه ډالر ترلاسه کول، له بلې خوای يې همدا مهاجر د دوی د ناپوهۍ په وجه د نيابتي جنگياليو په ډول کارول؛ خو اوس چې په يادو هېوادونو کې افغان کډوال د دوی پخوانۍ غوښتنې نه شي پرځای کولای او نړيواله ټولنه هم څه نه ورکوي، نو د رنگارنگ پلمو له مخې يې ببېرته له خپلو هېوادونو څخه د ټولو نړيوالو قوانينو خلاف افغانستان ته ورشړي.

د گاونديانو (پاکستان ـ ايران) بله جفا او ستر خيانت دا دی چې دوی د يادو شړل کېدونکو کډوالو په ډله کې لکه تل خپل جاسوسان د افغانانو په نامه زموږ هېواد ته رالېږي او د خپلو راتلونکو پلانونو د تطبيق په پار يې زموږ په هېواد کې ځای پرځای کوی. دا يو اوږد شوم پلان دی چې کلونه ـ کلونه به يې ضرر زموږ د هېواد ځو نسلونه او ملي گټې تهديدوي.

د دې برخې له پاره دا لنډۍ غوره شوي دي:



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ

پنجاب ـ تهران د اور مړی شه
چې واکداران یې د شړل حکم کوینه

تورخمه بیا کډې دربار شوې
پازاب یې نه‌کړې ستړي ـ ستړي قدمونه

افغانان بیا دومره مجبور شول
په نیمه بیه خرڅوي کور سامانونه

اوس پکي ته خوشحاله اوسه
ما پېښور نه کډه بار کړه ترې نه ځمه

کوڅه کي خړې خاورې باد شوې
د مسافرو کډې بار شوې ترې نه ځینه

افغانه یو ویر خو دې نه دی
زه به دې کوم یو غم ته اوښکي تویومه

تورخمه زړه دې څومره ډک دی
ظالم سرکار دی اولوسونه بېلوینه

کډې مي تورو غرو ته لاړې
نور رانه پاتي شول پردي ـ پردي ملکونه

په خپل وطن خوشحاله اوسئ
پردي وطن کي د چا نه شته عزتونه

خدایه دیورند په سېلاب یوسې
چې روژه‌ماتی د کابل په اذان شینه

خپله روزي له موږ نه غواړي
دیوالیتوب لـه مهاجر پوره کوینـه

لیونتوب تور وي او که سپین وي
تېپي ښامار غوندې هر خوا خوله اچوینه

ما سره غم په نیمه واخله
مهاجرت پیتی اوږې راخموینه

پردی غنم مي په کار نه دي
خپلو اوربشو ته کینم ژوند به کومه

زړه مي هماغسي غمجن دی
پردی وطن دی سپکاوی او لوټ کوینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

مفتیانو بیا فتواوې ورکې
چې افغانان دې همدا اوس وطن ته ځینه

ولسه خدای دې را پر ځای کړه
چې د پنجاب له احتیاجه راخلاص شونه

پنجاب تهران دې خدای تباه کړي
دوی رالېږلي زموږ مُلک ته فسادونه

خپل وطن خپل، پردی د بل وي
راځه چې خپل وطن ته ځو، خوشحال به شوونه

پاکستانیانو لو ګډ کړی
اسنادوالا بې سند دواړه جېل ته ځینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ